# د نړۍ رازونه



لیکوال : شبیر احمد همدرد

# دلیکوال لنډه پیژندنه



د اد فخر او ویاړ ځای دی چې د ګران، تکړه ، با استعداد او همت ناک ځوان شبیر احمد (همدرد) په اړه یو څه لیکم،شبیر احمد (همدرد)د مشهور لیکوال او ژورنالست استاد شیرشاه همدرد زوی دی چې په ۱۳۷۸ل کال کې په یوه روڼ انده کورنۍ کې دې نړۍ ته سترګې غړولې.

هغه خپل لومړنی او منځنې زده کړې ، دننګرهار د قلعه جانان خان په عالي لېسه کې ترسره کړي او له همدغه لیسې څخه په عالی درجه فارغ شو ، د کانکور د عمومي ازموینې له لارې د ننګرهار د تعلیم او تربیې پوهنځي د ارواپوهنې څانګې ته بریالی شو.

د همدرد نورې لیکنې او مقالې د ګڼو مجلو ، ورځپاڼو او ویب سایټونو له لارې خپرې شوي، چې له هغې جملې څخه یې تاند،لومړیتوب او نوښت ویب سایټونو د یادولو وړ دي.

همدرد ګڼ علمي سیمینارونه او ورکشاپونه یې تعقیب کړي، له دې سره سره د ځوانو ژورنالیستانو د څلور میاشتینی کورس څخه د ستوري لقب تر لاسه او ورڅخه په اعلی درجه فارغ شوی.

څرنګه چې د همدرد مینه او علاقه د انګلیسي ژبې سره ډیره ژوره وه، هغه د انګلیسي ژبې د مشهور کورس اذرخش لس میشاتینی پروګرام څخه فارغ شو او په عین حال کې یې د شیرزي انګلیسی ژبې او کمپیوټر مرکز څخه یې د انګلیسې ژبې او د کمپیوټر د زده کړې علمي سند ونه (DIT& DEL) ترلاسه کړ.

د هغه دانګلیسي ژبې سره دبې کچې مینې ، هغه ددې ژبې تر استادې ورسوله ، هغه د انګلیسي ژبې د استاد په حیث په لنکن ښوونیز مرکز، نوي اذرخش ښوونیز مرکز او محمود طرزي ښووونیز مرکزونو کې د استاد په حیث دندې ترسره کړي.

د لیکوال اثار:

1. Roghaniwal Communicative Words (چاپ)
2. Roghaniwal Communicative Sentences (چاپ)
3. د پوهانو ملغلرې (چاپ)
4. د رازونو نړۍ (همدا اثر)
5. د ژوند حقیقتونه(چاپ ته تیار)

اعظم تره کی

انقره ــ ترکیه

۱۳۹۶\۱سرطان\۲۹

Ketabton.com

# خپلې خبرې

د خدای(ج) ډېره زیاته شکر ادا کوم، چې ماته یې دنړۍ رازونو د کتاب د لیکلو توان راکړ.

دهر کار لومړني تجربې ممکن له تیروتنو خالي نه وي ،مګر همدا تیروتني دي، چې انسان وروسته دبریالیتوبونو، تر لوړو پوړیو پورې رسوي .

ډیرې لیکوالان داسې دي، چې پرخپل ځان او قلم یې باور نه وي ، نو ځکه که دلیکلو وړتیا هم لري ، بیا هم له هغه ویره چې لري، د څه لیکلو ته زړه نه ښه کوي .

ما تر ډیره بریده هڅه کړې، چې کتاب په ډیره ساده او روانو ژبو ولیکم ،تر څو لوستونکې ترې په آسانۍ ګټه پورته کړي .

هڅه مې کړې، چې په کتاب کې هغه موضوعاتو ته ځای ورکړم ، چې همیشه پرې خبرې کیږي ، او دزده کړې وړ واوسي ، په دې هیله چې ګټور ثابت شي .

بیا هم له ټولوملګرو څخه چې د کتاب په سموونه او نشر کې یې راسره مرستې کړي په خاص ډول دکتاب د پښتې ډیزاین او سموونه کې د ګران ورور، ملګرې او زما استاد ډاکټر انتظار احمد همدرد هڅې نه هیریدونکې دي ، چې ترې منندوي یم ، هیره مې نه شې، د قدرمن او ګران ملګرې اعظم تره کي نه هم مننه ، چې دډیرو بوختیاوو سره سره یې، دا کتاب وکوت او په خپل ښکلی سریزه یې، د اکتاب نور هم ښکلې او رنګین کړ، همدارنګه له لوستوالو څخه هیله من یم ،چې په خپلو سالمو

Ketabton.com

انتقاداتو د کتاب د بیا چاپ دسمبوونې په پار، خپلې نظریې راسره شریکې کړي.
دانسان هیڅ کار له تیروتنو خالي نه دی ،نو د کتاب په لیکلو کې که له ماڅخه څه غلطې اویا تیروتنه شوی وي، له تاسې څخه د هغه غلطی او تیروتنې معذرت غواړم، نور مو وخت نه نیسم .
تورتوتان له تاسې قربان!
د یوسرلوړې او آباد افغانستان دجوړیدو په هیله!
ستاسې کشر ورور
شبیر احمد همدرد
February 25, 2018

جلال اباد ــ افغانستان

Ketabton.com

## رنګینه نړۍ

اوبه ، سیندونه ، غرونه ، دښتې ، بوټې ،معادنونه او همداسې نور طبیعي پیداوارو ته کله ناکله د انسان فکر ورواوړي او د خپل څښتن تعالیٰ ورکړې عقل ورباندي څروي(پرې ګوري)، څښتن تعالیٰ موږ ته دا نړۍ له ډېرو زیاتو عجیبو څیزونو سره ښښلې ده ، دومره لویه نړۍ یې یواځې او یواځې زموږ دخوښۍ او سوکاله ژوند تیرولو لپاره راکړي، چې یواځې دغه بې شمیره ستورو کې یوه ستورۍ ته نظر واچوو ، دهغه ستورې په اړه مالومات بیا د پیړیو پیړیو خبره ده.

دا خو هر چاته څرګنده ده ، چې موږ د ځمکې په سیاره کې ژوند کوو او هغه کائینات چې د ځمکې په سر او لاندې په اوبو کې وینو، دا هر څه موږ ته ښکاره څرګندیږي، مګر ځینې داسې کائینات هم شته، چې په سترګو نه لیدل کیږي.

که موږ وایو چې دا نړۍ له رازونو څخه ډکه ده، چې د هرې برخې د څیړنې لپاره یې بیلې مطالعې او بیلې پوهنځي ته ضرورت دی او همدارنګه په هره زره(اتوم) باندې په زرهاو کتابونه لیکل شوي او همدارنګه په زرهاو پوهانو نظري یې پرې وړاندې کړي نولازمه یې بولم ، چې ووایم، چې په ریښتیا هم دا نـــړۍ له رازونـــو ډکه ده.

که دغه کـــــتاب په ځـیر سره ولوستل شي، نو څرګنده به شي، چې موږ نه یواځې په کائیناتو بحث وکړ، بلکې زموږ په ژوندانه کې داسې نورې مسءلي هم شته چې تر نظر لاندي ونیول شي .

دبیلګې په ډول ټولـــنه، تعـلیم، حـــقوق، ســـیاست، مـــذهب، فـــلسفه، جـــغرافیه، طـــب، اقتـــصاد، انجـــینري، هنـــر،کلـــتور، تـــربیه، دا هغه څه دي، چې دیوې ټولنې له لومړیتوبونو څخه شمیرل کیږي.

نـــــو آیا دغه ټولې موضوعګاني، په یوه کتاب کې سره راغونډیدای شي؟

پوهیږم ستاسي ځواب به نه وي.

له یاده مه باسئ، چې ددغه کـــتاب عنوان د (نــــړۍ رازونو) په نوم یادیږي ، نو ځواب هو، بلکل کیدای شي. ټولې ذکر شوي موضوعګاني په لنډ ډول او هغه څه چې د یوې ټولنې د وګړو په فکر کې، د ټولنې د پوهاوي لپاره راګرځي، ګران او هڅاند ځوان شـــبیراحمد "هـــمدرد" پخپل ځانګړي ځیرکتیا سره کړي ، زموږ او ستاسو په خدمت ته یې وړاندي کړي.

د هــمدرد صیب، ددغه ځرکتیا او پوهې په اړه ،یو دوه بیتي شعر رایاد شو

شاعر وایي:

غرونه غرونه سخت کارونه ورته هیڅ دي

که په پیغله که په ځوان کې ده پوهنه

نو که " هـــمدرد" غوندي ځوانان ولرو نو بیا هغه وخت لیري ندی، چې وطن او ټولنه مو دپوهاوي کهکشان په وخیژي.

په درنښت

اعظم "تره کی"

انقره ــ ترکیه

February 25, 2018

Ketabton.com

# ډالۍ

په ډېره مينه او درناوې، خپلې درنې کورنۍ او خپل والد صيب الحاج استاد شيرشاه همدرد ته، چې زما د ژوند حقيقې روزونکې او زما د ژوند ريښتينی اتل دی!

Ketabton.com

# د کــــتاب پېژندنه:


| | |
|---|---|
| دکتاب نوم | د نړۍ رازونه |
| لیکــــــوال | شبیراحمد همدرد |
| کمپوز کوونکې | شبیر احمد همدرد |
| د پښتۍ ډیزاین | ډاکټر انتظار احمد همدرد |
| انلاین خپرونکې | کتابتون |
| ایمیل آدرس | Shabirhamdard23@gmail.com |
| د چاپ کال او شمیره | ۲۰۱۵ ع کال ۱۰۰۰ ټوکه |


Ketabton.com

# لړلیک

خسوف(سپوږمۍ نیول)او کسوف(لمر نیول

فیصله کوونکی طلسمي حوض!

د ورک شوو شیانو اطلاع ورکوونکی طلسمي نقاره

عجیبه ونه

دنړۍ تر لوړ انسان

په نړۍ کې کم عمر کې عینکې اغوستل

شادو

اوږده پادشاهي

حافظه

د فرښتو تصویر

څلور

اوږود عمر والا انسان

محل

سپوږمۍ ته د نورو مخلوقاتو تګ را تګ

باران

کتابونه

د هقان باندې فضایې مخلوق حمله

حیرانونکې سیند

ډارونکی چیغه

د مړي ژوندي کیدل

Ketabton.com

د ساینسپوه لابراتوار
د پیریانو استوګنه
د شیدو سیند
درې چینې
جهیل
ونه
بوټان
ګونګۍ
په اوبو کې پوهنتون
قران تلاوت کوونکی طوطي
د مړي ژوندی کیدل
مصنوعي ژبه
غلا
دیته سزا وایې
ړوند فوخ
دهقان او مار
واده
شتر مرغ هګۍ
د پروانې زهر
۱۳ بچیان
۴ کاله بې هوښي
عینکو سره مرګ
۴۰ کاله وروسته ژوندی کیدل

Ketabton.com

ځلیدونکی ونه

اووه رنګه شګه

مینه ناک مار

اته کاله خوب

شین رنګه هګۍ

۷۵ غبرګو بچیانو پیدا کیدل

د غاښونو منار

د مرګ دره

وړوکی موږک

ښکر والا چونګښه

آیا تاسې د ۶۸ کالو استۍ؟

د موږکانو اندازه

۳۴ کالو نه پس مړی

۱۸ ورخې بې خوراکه ژوند کول

د موږک سلام

عجیبه سړی

په فردانا کې په پیړیو باران نه دی شو

په ۵۰ ژبو پوهیدونکی انسان

د نړۍ لوی جومات

دوه سوه زره کاله مخکې د انسان د زندګۍ نښې به سپوږمۍ کې!

د پاکستان په یو کلي کې عجیب اور!

په بازار کې د زوم خرڅیدل

۱۵ ورځو پورې د خوراک نه بغیر ژوند کول

Ketabton.com

د مریخ وایروس

۳۰ زره موږکان د سپیانو په واسطه هلاک کیدل

عجیبه ګل

همیشه اوربښت لرونکی سیمه

تور طوفان

د ماشومانو د مړینې په اړه ویونکی ساعت

د زمرۍ بچیو ته شیدی ورکول

جنازه

جهیل

د ترکیې بادشاه

چرګه

پرنجی

ایرلینډ کې ماران نشته

د کاغذو کور

ډوډۍ

شفاف جسم

پیشو لس کسانو ته نجات ورکړه

د لاس بیمه

ډاکټر

په اور ګاډي باندې د پیریانو قبضه

غیږدونکی شګه

۸ کله مخکینې مړی بیرته راغی

د قران کریم معجزه

Ketabton.com

مريخ کې د ژوند لټه

خرطوم والا انسان

د چنګښو باران

د سرو زرو اتش فشان

د نړۍ لوی جنازه

حيرانونکی د طاقت خاوند

۱۸ مياشتو ماشومه مړه کيدل د کب په واسطه ليمبو

اواز کولو والا کاڼې

په سړو کې مصنوعي غاښونه

تر ټولو لوی ډول

عجيب جهيل

د نړۍ قيمتي ساعت

د باران ښودونکی بوټی

هيوادونه

امريکا

روسيه

فرانسه

چين

سعودي عربستان

مصر

عراق

Ketabton.com

ایران

الجزایر

بلجیم

هند

البانیا

استرالیا

ترکیه

افغانستان

سینګاپور

آیا پوهیږئ؟!
جالب معلومات
د لوستو وړ
په نړۍ کې تر ټولو مخکې

تر ټولو لوی

د هیوادونو په اړه
د نړۍ مشهور شاعران

د ځناور او الوتونکو منځني عمرونه

د لوبو او لوبغاړو نړۍ
هاکي

کرکټ

والیبال

باسکټ بال

جالب

په زړه پورې معلومات

مرګونه او وژنې -

Ketabton.com

مشهورې اختراګانې

د نړۍ پراخ هیوادونه

د نړۍ لس لوړ اورغورزونکي غرونه

د قران کریم په اړه مالومات

د نبیانو په اړه

حضرت محمد (ص)

حضرن ابوبکر صدیق(رض)

حضرت عمر فاروق (رض)

حضرت عثمان غني(رض)

حضرت علي (رض)
د اصحابانو په اړه!

دیني معلومات

آیا خبر یاست؟

په زړه پورې!

آیا پوهیږئ ؟

د نباتاتو نړۍ
د سیندونو په اړه پوه شئ!
د حیواناتو نړۍ

Ketabton.com

# خسوف(سپوږمۍ نیول)او کسوف(لمر نیول)

لومړنی کسوف چې ثبت شوی په ۲۱د اپریل ۱۳۰۵م کال وه او لومړنی خسوف د نوامبر ۱۰مه ۱۲۰۶م کال.

د کامل خسوف اکثر حد (۷) دقیقې او( ۵۸) ثانیې چې فقط په استوایې ناحیو کې منځ ته راځي.

ډیر اوږود خسوف په فلیپین کې وه چې مدت یې (۷) دقیقې او (۸) ثانیې په کال ۱۹۵۵م کال د جون په میاشت کې واقع شوی دی.

زیات ځله مرتبې خسوف چې د یو کال په جریان کې وشي (۷) ځلي دي او ټیټ ځله حد یې چې د کال په جریان کې وشي دوه ځلي دی.

په ۱۳۵۹م کال پنځه ځلي خسوف واقع شوی دی.

ډیر عظیم یخچالونه په جنوبي قطب د جنوبي قطب براعظم دی (۳۰۰۰څخه تر ۴۵۰۰) مترو پورې رسیږي.

ډیر زیات باران کیدونکی ناحیه په نړۍ کې چرا پونچي د اسام د هند شمال ختیځ دی.

ډیره توده سیمه په نړۍ کې چې تراوسه ثبت شوی دی د العزیزیه د لیبیا په جنوب کې موقعیت لري چې د تودوخې درجه یې (۶۱) سانتي ګرید ته رسیږي.

ډیره سړه سیمه په نړۍ کې د اویمیا کن د روسیې په سایبریا کې ده چې منفي ۸۸.۳ درجو ته رسیږي.

# فیصله کوونکی طلسمي حوض!

د نمرود د زمانې بابل یو داسې طلسمي تالاب جوړ کړی و،چې درواغ او رېښتیا په منځ کې یې فیصله کوله یعنې کله به چې ،د دوو تنو په یو شي دعوه کوله،دواړه به تالاب ته ښکته کیدل کوم چې حقدار وه هغه به پاتې شو او هغه کس چې دروغ یې ویل نو هغه به مړ شو.

# د ورک شوو شیانو اطلاع ورکوونکی طلسمي نقاره

د ورک شوو څیزونو د تلاش لپاره د بابل حکیمانو یوه طلسمي نقاره جوړه کړې وه چې کله به کوم شی ورک شو نو یو سړی به نقارې ته ډب ورکړ نو نقارې به ویل چې ورک شوی څیز فلاني سره ده یا فلانی ځای کې ده.

Ketabton.com

# عجیبه ونه

د نمرود د محل د باندې یو داسې پیټر لګیدلی وه چې د هغه سیوری به د خلکو د تعداد مطابق وه یعنې چې کله زیات خلک راتلل نو سیوری هم زیات خور شو او که کم خلک راتلل نو سیوری به یې هم همغومره وه د خلکو په اندازه.

# دنړۍ تر لوړ انسان

د حضرت موسی علیه اسلام زمان کې، تر ټولو لوړ انسان موج بن عوق و،د هغه ونه ۳۳۰۳گزه و، د وریځو په مینځ کې به سینه راویستې وه،چې تږی به شو وریځ به یې وزبیښلې او اوبه یې وڅښلې ،د لوږي په صورت کې به یې سمندر څخه ماهي راوښکلو او لمر ته به یې ونیوه کباب به یې کړو او وبه یې خوړو ،طوفان نوح کې به چې اوبه له غرونو څخه اوچت کیدلې د هغه د پوندو پورې رسیدلې ،حضرت موسی علیه اسلام هغه کیفر کردار باندې ورساو دری زره کاله یې عمر وه،دری زره کاله یې پښې هډوکي په دریاب نیل باندې پل وه.

# په نړۍ کې کم عمر کې عینکې اغوستل

کولمبس امریکایې کارل بالټز د ۶میاشتو په عمر کې عینکې اغوستل پیل کړل،له دې امله هغه دنړۍ ، ترټولو کوچنۍ ماشوم وپیژندل شو، چې عینکې یې واغوستل .

# شادو

په ۱۹۵۹ م کال کې د لندن په یوه تاخچه کې ۳۸۰ انځورونه ایښودل شوي و،په هغو انځورونو کې د حیرت او تعجب خبره دا وه چې، د هغه انځورونو اخیستونکي شادو وه، چې وروسته بیا دغه تصویرونه په یو لک پونډه باندې وپلورل شو.

Ketabton.com

# اوږده پادشاهي

جاپان کې شهنشاه هیرو هیټو په تاریخ کې تر ټولو ډیره زمانه حکومت وکړو، د هغه د شهنشاهیت موده ۶۲کاله وه، د هغه عمر تقریبا ۸۷کاله و او په ۱۹۸۸م کال کې وفات شو.

# حافظه

د فرانسې پادشاه ناپیلیون بوناپارټ د حافظې قوه حیرانونکی وه،هغه ته د خپل لښکر هر عسکر نوم زده وه، کله چې دې دخپلو عسکرو غږ به یې واورید، ویلای شو چې د کوم عسکر غږ دی.

# د فرښتو تصویر

د يوې امريکايې کمپنۍ پيلوټ د پرواز په دوران کې ۳۲زره فټه پورته په وريځو کې، د فرښتو نظاره وکړه، دغه نا قابل يقين پيښخ فيډرال ايوې ايشن ايډ منسټريشن د انتهايې خفيفه ادارې راپوړونو کې موجود دي، چې دغه راپور د غيرې معمول روحاني تجربو په فهرست کې ساتلې شوی، د واقعاتو مطابق امريکې طيارې ۳۲زره فټه پرواز کولو چې پايليټ دغه منظره وليدو، کوم چې دده د سترګو هم پرې باور هم نه کيده، په وريځو کې د يو قامت انساني مرغان لکه د فرښتو په څير الوتلی چې دغه منظره پيلوټ وليدو نو بيا په کمره باندې يې تصويران هم واخيسته.

ددغې حادثې واقعې په باره کې چې کله له مذهبي مشرانو څخه رايه واخيستل شوه ، نو هغوې وويل چې دا نړۍ د انجام او پايښت نښه ده.

# ځلور

د جرمني بادشاه چارلس روزانه ځلور ځله خوراک کاوه، د هغه ځلور محلې وی ،هغه به په وخت ځلور رنګه کالي کوله، د هغې ځلور ښځې وی ،ځلور بچيان يې وی، هر يو يې د ځلور کالو په په وقفه کې پيدا شوي، هغه په ځلورو ژبو پوهيده او هغه چې کله مړ کيده نو د پالنګ ځلور خواوته ځلور ډاکټران وه او هغه په ځلور بجو او ځلور دقيقو کې وفات شو.

### اوږود عمر والا انسان

د ايران په غرنی علاقه کې اوسيدونکی يو دهقان دعوه کوي چې د هغه عمر ۱۹۰کاله ده او هغه د اتلسمې صدې تاچار خاندان بادشاه فتح علي خان په دور کې پيدا شوی.

دنړۍ ددغه عمر والا انسان نظر کم شوی او په ګرځيدو راګرځيدو کې ورته تکليف وي، تراوسه د هغه دماغي توازن بلکل درسته ده او دغه تندرست دهقان يادانښت ډير ښه دی.

# محل

انګلستان کې د ډيم ښار شمال خواته د ريبي په نامه يو قديمي محل ده، دغه ريبي اباد د ۷سوو کالو څخه راپديخوا موجوده ده، ددغه محل صالون کې داور بکس (انتشدان) ده، چې هغه کې ۷سوه کاله مسلسل اور بليږي او تراوسه پورې خاموشه شوی نه دی.

# سپوږمۍ ته د نورو مخلوقاتو تګ را تګ

په ۱۸۷۱م کال کې ، چې کله امریکایي خلایي کمپني ناسا سپوږمۍ ته اپالو ۱۵راکټه وتوغاوه، هغه کې ډیوډ سکاټ او جیمز ارون سپاره وه، هغوی فضاوردانو ځلوینښت قدمه تلو نه وروست یو قبر ولید، چې قبر څخه معلومیده چې د نورو سیارو با شعوره مخلوق هم دلته تګ را تګ کوي، چې دا خبره هم ور څخه معلومیږي چې د هغوي تکنالوژي او ساینس د انسان له ساینس او تکنالوژي څخه بهتره ده، د سپوږمۍ په سطحه په دغه قبر د ګټې صلیب جوړه شوې وه.

# باران

بارانونه رحمت هم وي او زحمت هم جوړیدای شي، د اورښت د موسمیاتو اداري ته هم معلومات نه وي.

ځینې اورښتونه ډیر زیات عجیب او غریب وي، د لاندې یاد شوي اورښتونو اوریدل، د انسان ذهن ته ټکان ورکوي.

په ۱۹۲۳م کال د یلابس په جزیره او د ایرلینډ په بالینډ کیسل کې له ۲ اګست څخه ۸نومبر پورې مسلسل ۸۹ ورځې باران وشو، دغه نړیوال ریکارډ تراوسه نه دی مات شوی.

په ۱۸۶۱م کال په چیرا پوچي کې ۹۰۵انچ اورښت شوې چې هلته هر کال پنځه انچ اورښت کیږي.

په ۱۹۶۱م کال د فلیپین په جزیره لوزان کې، په یوه ورځ کې له ۴۵-۹۰ انچه اورښت وشو، چې دا تراوسه پورې د یو ریکارډ حیثیت لري.

اورښت که په ټوله نړۍ کې یو شان وشي، نو ټوله نړۍ به غرقه شي.

۱۸۸۷م کال اګست کې په جینوا کې د تودو اوبو باران وشوه، چې ډیر بد بویه هم وه.

په ۱۹۲۰ م کال د نومبر په ۱۷ مه باندې په فرانسه کې یو باران سره سره کله کله به ۲۰ فټه د یخونو ټوټې هم را تویې شوې، زموږ په نړۍ کې د کاڼو ،دهات ،کاغذ، وریښمو ، ذغالو، مالوچو په ځیر، الوتونکو ځیزونو سبزي ، کبان ، میږیو هم باران شوی دی .

# کتابونه

په نهم عیسوي پیړۍ کې یو ایرانی چې جاهر نومیده ، د لوست ډیر شوقي وه، د هغه لاس ته به چې کوم کتاب ورغی له پیله تر پایه به یې ولوسته او پټ به یې کړه، د هغه شاوخوا د کتابونو انبار جوړ وه دغه انبار به زیاتیده بلاخره یو وخت یو اوړد او ډیر اوچت منار جوړ شو او د هغه د مرګ سبب وګرځید، ځکه چې دغه منار په جاهر باندې راپریوت او هغه یې لاندې کړو .

Ketabton.com

# د هقان باندې فضايي مخلوق حمله

د لاتيني امريکې ليرې پرتې سيمې پوکيو اوسيدونکی دهقان بيډرو هرارا تيرو ورځو کې خپل پټي کې يې يخ کار بوخت وه ، دهغه تر سترګو يو شی په نظر راغله چې زيات ځليدونکی وه،جسامتيې د يو ټکټر په اندازه وه.

هرارا چې هغه يې وليد نو لاس يې وښوراوه او وی خندل ، يوه ناڅاپه په هغه باندې يو ځليدونکی شعاع وغورځيده او د هغه مخ يې وسوزوه، کله چې هرارا يې روغتون ته انتقال کړ ، ډاکټرانو وويل، چې د هرارا مخ سوزيدلی او هغه باندې اسماني مخلوق حمله کړی دی.

د هرارا غوږونو ته اوس هم د راډيو دغږونو په شان غږونه راځي د ماهيرينو خيال چې د فضايي مخلوق رابطه اوس هم هرارا سره قايم دی هغوي د هرارا په نقل او حرکت باندې نظر ساتلی.

Ketabton.com

# حيرانونکې سيند

په آسيا کې يو سيند دی، چې په شپه کې د هغه سيند اوبه له رنګ دا شان کيږي که يو تن په هغه کې ور ټوپ کړي نو هغه به دومره بدل شي، چې شناخت يې څوک نشي کولای ، د ورځې لخوا بيا دغه سيند و چ وي ، ماښام بيا يو دم اوبه له ځمکې څخه راوځي او په سيند کې خورې شي.

# ډارونکی چيغه

د کينيا په شمال کې په يوه غره کې په يوه ګټه باندې انساني بت جوړ شوی ، که چيرې موسم د ګرمۍ شي د هغه رنګ يو دم تور شي، پوره ۶مياشتې په همدې رنګ وي، د يخني په موسم کې د شپې لخوا د هغه له خولې څخه ډاريدونکي اوازونه او چيغې اوريدل کيږي، چې د هغه ځای خلکو تراوسه په دې راز نه دی پوه شوی.

## د مړي ژوندي کیدل

د ایلینډ په یو ښار کې څه موده مخکې ۶۴ کلن سین اوریلي یې خښوله، کومه چې د زړه د حملې له امله وفات شوی وه، لیکن د ماتم دغه مجلس هلته په خوښۍ باندې بدله شوه، چې مړی یو دم له تابوت څخه اوچت شو او پخپل ځای کیناست ، هغې خپلې سترګې خلاصې کړې، عامه روغتون یې ددې راز په هکله په تحقیق بوخت دی .

## د ساینسپوه لابراتوار

د امریکې په یو ښار کې د فیټر په نامه یو ساینسپوه اوسیده، هغه به ټوله شپه، پخپل لابراتوار کې تیروله.

یوه شپه هغه مړ شو، نورو خلکو د هغه د لابراتوار د قبضه کولو اراده وکړه، مګر چې څوک به دننه کیده لږ وروسته به هغه بهر را ګوزار شو او په هغه به اور ولګیده، اوس چې څلور سوه کاله تیر شوې دغې لابراتوار خونې ته نه څوک ورغلي او نه هم چا وربانديې د قبض کولو هڅې کړې، تر ننه پورې هغه لابراتوار ، دخلکو لپاره یوه معما ګرځیدلی دی.

## د پیریانو استوګنه

د ټانګانیکال شمال خوا کې یوه ښایسته سیمه ده، د خلکو وینا ده ( چې د غه ښکلی وادي ، د پیریانو د اوسیدو ځای دی، د ورځې له مخې چې هر څوک دغه ښکلی سیمې ته د تللو هڅې وکړي نو هغه یو ډول دویرې احساس کوي ، چې هغه تښتي د شپې لخوا دغه علاقه کې د ښادي او ساز خواږه اوازونه اوریدل کیږي. اکثر هلکان په دغه اواز داسې شیدا کیږي چې هلته مري، د هغوي جسدونه هملته د تور رنګ ګل شي.

## د شیدو سیند

بنارس کې یو د تورو اوبو سیند دی چې کله کوم سړی هغه ته لاندې کوز شي، د هغه سړي رنګ تور شي، چې بیا ټول عمر همدا شان وي، د شپې لخوا د دغه سیند اوبه شیدې شي اصلي مزه یې هم د شیدو

Ketabton.com

وي، ډيرى خلک غوا او ميښه نه ساتي، د شپې لخوا دغه شيدې ډوله اوبه استعمالوي په هغه کې د بورې ضرورت نه محسوسيږي د هغه خوند په طبيعې ډول خوږه ده.

## درې چينې

په سريلانکا کې، په يو ځاى کې درى عجيبې چينې بهيږي، چې دهغه لومړى چينې اوبه يخې دي، ددويمې اوبه ډيرې ګرمې دي او دريمې خوږې دي لکه بوره.

## جهيل

د جرمني په يوه سيمه کې، داسې يو جهيل شته چې د هغه اوبه دوه ذايقې لري، د جهيل سطحې اوبه ډيرې زياتې خوږې دي او د سطحې نه تقريبا درې فټه لاندې بيا بلکل ترخې دي، چې خلک ورته حيران دي چې د يو جهيل اوبه دوه مختلف قسمه ولې دي؟

## ونه

په سډني کې د صنوبر ۱۵کروړه کالو ونه موجوده ده، دا ونه ټول کال شنه ده، د ساينس پوهانو خيال ده ،چې ونه ژوندى فوسيل ده ، د سډني افسران د دغې ونې ساتنه کوي .

## بوټان

د ترکيې يو تن د بوټ جوړولو کاريګر د نړۍ تر ټولو غټ بوټ تيار کړو او نړيوال ريکارډ يې جوړ کړ.

زاهد نومي کس چې کوم بوټ جوړ کړى دى، د هغه اوچت والى درې متره ده، د هغه بوټ له ورکشاپ څخه راويستو لپاره يې د ورکشاپ ديوالونه وران کړل په جوړلو يې شپږ مياشتې ولګيدې ، د اتيا جوړو په اندازه مواد پکې کارول شوى وزن يې ۸۰۰ کيلو ګرامه دى.

## ګونګى

د استرالیا ټینا نامې نجلۍ پیدایشي ګونګۍ وه ، یو ځل چې هغه کارخانې ته د کار په خاطر روانه وه سرک باندې یو موټر بې قابو شو اوسیده د ټیناکې په خوا په ورغئ، ټیناکې یوه زوروره چیغه وکړه ، ټوپ یې کړو د کټارې بلې خواته ورسید، دغې چیغې سره د هغې ګونګي توب همیشه لپاره ښه شو.

# په اوبو کې پوهنتون

په ۱۹۷۰م کال په نړۍ کې واحد سمندر کې روان پوهنتون چې په بحري جهاز باندې کوئن الزبت کې جوړ شوی چې هان کانګ کې ده د هغې نوم ( سې وائز میرین یونورستي) ده خلک هم په روانو صنفونو کې تعلیم حاصلوي.

# قران تلاوت کوونکی طوطي

په نړۍکې یو طوطي داسې هم شته چې قران کریم تلاوت کوي ، دغه طوطي د قطر یو تن اوسیدونکی سره ده ، چې هغه یې په روزنه کې خاصه توجه کړی ده، چې بغیر له قران څخه یې بل څه زده هم نه دی.

Ketabton.com

# د مړي ژوندی کیدل

د امریکې په یو روغتون کې یو مړی جم شفیرا خپل مرګ نه شل دقیقې وروسته بیا ژوندی شو، د هغه د ښځې خواهش وه چې کم څه کم د هغه بچو تر راتلو پورې ژوندی شي، خو هغې ته یقین وه چې مړ شوې دی، هغه خپل خاوند ته غږ وکړه ، نو هغه خپلې سترګې پرانیستې، دغه وخت کې د هغه زوې او لور دواړه راغلل ، هغه د فامیل ټول غړو ته بار بار خدای په امان وویل، سترګې یې پټې کړې او بیا د مرګ په خوله کې پریوت.

# مصنوعي ژبه

دوه هندي ساینس پوهان مصنوعي ژبه تیاره کړې ده، دا ژبه داسې مریض ته ولګول شو چې د هغه ژبه د سرطان له امله قطع کړای شوی و، دغه ژبه د حلق لاندې ورته پیوند شوی، دغه ژبه د مصنوعي ژبې کار کوي.

# غلا

د ایټالیا یو ۷۰ کلن معتاد غل ګینټو بلاني دعوه کړی، چې د هغه نوم ګینز بک اف ورلډ ریکارډ کې راوړل په کار دی .

هغه صرف څلویښت کلونو کې ۱۱۱۶۰ ځلي غلا کړی دی، چې په نړۍ کې تر ټولو لوی ریکارډ دی هغه وایې: دا سمه ده چې ما کوم ښه کار نه دی کړی لیکن ما د غلا کولو یو ریکارډ قایم کړی دی او زه همیشه په صاف ستره او عمده لباس کې خپل کار پسې تلم.

# دیته سزا وایې

د نپولین په فوج کې د ساوان په نامه یو سړی ملازم وه، او اون په مقام باندې یو ځل هغه ته ددغه ځای د سرکاري کار کولو خبره وشوه ، نو هغه په جواب کې وویل: زه دا کار نه شم کولای زما کمزوري دومره زیاته شوی دی چې بغیر له ناستې څخه بل څه نه شم کولای.

هغه ته ددغه حکم نه منلو او تر یو حده د کمزورۍ په احترام ورته دا حکم وشو، چې د چرګې په ځګۍ د هغه وخته پورې ناست اوسیږي چې ترڅو هګیو څخه بچي نه وي راوتلی دې سره دا پابندي هم پرې ولګول شو چې یو هګۍ هم باید ماته نه شي.

نو دا هم څو ورځې مسلسل څو ورځې پورې په هګیو کیناست نو له هګیو څخه واقعي ښه ښایسته چرګوړی راووتل.

# ړوند فوځ

په ۱۸۴۰ م کال فوځ کې وظیفه دومره مشکله وه چې ځینې فوځیان په دې غرض چې بیکاره معلوم شي او وظیفې څخه ګوښه کړی شي خپله یوه یو سترګه یې ړندې کړې خو د مصر یو بادشاه محمد علي دوه داسې مستقل فوځي دستې جوړې کړې چې په کې د تمامو شاملو سپاهیانو سترګه ړنده وه، هغه کې ګونګیان هم وه دغه ګروپ تر پنځوس کالو پورې پاتې شو.

# دهقان او مار

د مکسيکو ۴۱ کلن دهقان والنټاين څه موده مخکې خپل ورور فيډل سره د يو سيند په غاړه روان و ، هغه تږی شو سيند ته ور کوز شو هغه هلته يو انتهايې زهر لرونکی مار کورل نسل مار وچيچله، والنټاين ته معلومه وه چې دا مار بې انتها زهر لرونکی مار دی نو د همدې لپاره يو څه بايد وکړي، هغه فور مار ونيو او د هغه سر يې له تنې څخه بېل کړل او فور د خپل ورور مټ په کوم ځای چې مار چيچلی وه هلته وتړله او روغتون ته يې ورسوه او هلته د زهرو ضد درمل ورکړل شو او روغ شو.

# واده

د بحرين يو ۹۹ کاله سړی عبدالله رفعان عباسي ۵۹ ودونه کړي دي او اوس د شپيتم واده په لټون کې ده، عبدالله اوس په سعودي کې مقيم دی ، دسعودي اخبار اوکاز د وينا مطابق د اولادونو تعداد يې ۷۰ ده چې خپله هغه ته هم د زامنو د تعداد درک نشته، له دغې وجه هغه ته د عين نکاح په موقع معلومه شوه چې چاسره اوس واده کول غواړی هغه د ده حقيقي لور ده له هم دې امله واده پاتې شوه.

عبدالله له مختلفو ملکونو څخه ودونه کړي دي مخکې کال هندوستان ته راغلی وه او څلور کمسن نجونو سره يې ودونه وکړل او ځان سره يې انتقال کړل، د هغه تر ټولو مشر زوې عمر ۶۵کالو دی او تر ټولو کوچنی د يو کالو دی.

# شتر مرغ هګۍ

د نوي ډهلي په يو باغ وحش کې يو شتر مرغ يو نيم کيلو ګرامه هګۍ واچوله، مخکې له دينه يو شتر مرغ هم دا اندازه هګۍ نه وه اچولی، د هګۍ اوږودوالی ۷ انچه او ضخامت يې ۱۶ انچه وه دا هګۍ د تيرې غوندې کلکه وه.

# د پروانې زهر

پروانې هر سړی خوښوي د هغوې په رنګونو کې ډېر ښایسته هم وي لیکن بازې پروانې زهر لرونکی وي، افریقا کې دا شان پروانې هم شته چې هغه دومره زهر لري چې که زمری وچیچي نو زمری هم هلاک کوي.

# ۱۳ بچیان

یو امریکایې ښځې په یو وخت کې ۱۳ بچي وزیږول چې دا یو طبي واقعه ګڼل شوی دی.

شپږ هفتې وروسته له ۶ هلکانو او ۷ جنکیانو سره کورته ستون شو.

# ۴ کاله بې هوښي

د انګلستان په یوه ښار کې د ترافیکي حادثې په وجه یو ښځه ډېر سخته زخمي شوه، هغه شفاخانې ته یووړل شوه بې هوښه وه، د هغې بې هوښي ۴ کاله دوام وکړ او بیا هغه بیداره شوه خو دوه ورځې وروسته بیرته وفات شوه.

Ketabton.com

# عینکو سره مرګ

جوزاف ګیراټ ۱۹۷۹م کال کې پیدا شو، د فرانسې د انقلاب نه پس ګیراټ ته حکم وشو چې هغه شاه فرانس لویې ته د مرګ سزا حکم کړي، دا وخت ګیراټ طلایې عینکې په سترګو وی،د حکم اورولو نه پس هغه فیصله وکړه چې هغه به نور دا عینکې نه په سترګو کوي، دا کار یې پوره ۴۰ کاله پس ګیراټ هغه عینکې په سترګو کړې چې سمدستي د فرانس د بادشاه مرګ ورته را یاد شو، ناګهانه ګیراټ هم خپل ژوند له لاسه ورکړ.

# ۴۰ کاله وروسته ژوندی کیدل

د سویزرلنډ کروړ پتي تاجر رالف بریپور په دماغ کې داني پیدا شوې دا زمانه په میډیکل ساینس کې د دغه مرض اعلاج نه وه له دې امله ډاکټرانو وویل چې رالف څو ورځې وروسته مړ کیږي.

نو رالف له ډاکټرانو څخه خواهش وکړه چې د هغه جسم په واورو کې منجمد کړای شي چې کله راتلونکی زمانه کې د دغه مرض اعلاج پیدا شو نو بیا دې هغه راویستل شي او اعلاج دې کړای شي.

څو ورځې مخکې جینیوا کې کریو جینک لابراتوار څخه د رالف جسد له واورې څخه راویستل شو او ګرم کړی شو نو رالف نا ګهانه په هوش راغی او چار چاپیره خلکو ته نظر وکړ او چیغه یې کړه او وتښتیده لومړي سر کې ورته ګرځیدل لګ څه مشکل وه خو وروسته بیا سم ګرځیده ډاکټرانو د هغه ژوندي کیدل یو معجزه ګڼي.

# ځلیدونکی ونه

په جاوا اندونزیا کې یوه داسې اوږده ونه موجوده ده، چې د شپې لخوا رڼا کوي او څو میله پورې یې رڼا یې په نظر کیږي دغې ونې لاندې که څوک کتاب ګوري نو اسانۍ سره کتلای شي.

Ketabton.com

# اووه رنګه شګه

د هندوستان په ندي کمارې کې اوه مختلفو رنګونو والا شګه موندلای شۍ او شعاع ګانې یې تر ډیر لرې علاقو پورې ځي .

# مینه ناک مار

یو کورني مار ۱۲۰۰ میل سفر وکړو او د خپل مالک کور ته یې ځان ورساوه، د ورلډ نیوز مطابق یو تن رینډل یو مار درلود، هغه له میامي څخه د پنسلوایا شار پیټر برگ ته کور انتقال کړ، د روانیدو نه مخکې د سامان تړلو په موقع هغوي ولید چې د مار پنجره خالي ده تلاش یې وکړ را پیدا نشو ناچاره روان شول او په دی خیال وه، چې چیرته کوم کار پسې تللی او مړ شوی دی.

دوه کاله پس سهار وختي کله چې هغه دفتر ته تلو دروازې نه د باندې ووت یو قسم بې انتها حیرانتیا سره مخ شو ، چې کله هغه له دروازې څخه ووته نو مار ورته د دروازې څخه د باندې ناست وه او راټوپ یې کړه او د خپل مالک غاړه کې ځان زوړند کړه.

# اته کاله خوب

د شکاگو په یوه شفاخانه کې یوه نجلۍ چې نوم یې پرکاتها وه د د عملیاتو لپاره راوستل شوی وه، دلته بیا هغه ته خوب راغی ډاکټر منتظر وه چې د هغې خوب ولاړ شي او د هغې عملیات وکړي لیکن هغه برابر ۸ کاله پوره ویده وه او په دغه حالت کې کله چې هغه له خوب څخه پاسیده نو بیا وفات شو.

Ketabton.com

# شین رنگه هگۍ

چلي د جنوبي افریقا یو ملک دی دلته چرگې نیلي رنگ هگۍ اچوي د هغه وجه دا ده چې په دغه ملک کې تانبه کافي مقدار کې ده او چرگې د دانې خوړلو په وخت کې تانبه هم خټي له دې امله هگۍ شنې وي.

# ۷۵ غبرگو بچیانو پیدا کیدل

د ترکې ګاون کانان کې په یو خاندان کې ۷۵ غبرګوني ماشومان پیدا شو چې ډاکټران هم ورته حیران شو او د کتلو لپاره یې پرله پسې خلک را روان وه، د ډاکټرانو د وینا مطابق چې دا د یو خاندان پخپل مینځ کې د واده کولو په وجه پیدا شوی دی.

# د غاښونو منار

شمال مشرقي چین کې یو ۵۲ کلن غاښ جوړنکی ۲۸۰۰۰ بې کاره غاښونو څخه یو ۹ فټه اوچت منار جوړ کړی دی او مقصد یې هم دا دی چې خلک خپل د غاښونو صفایې ته توجه وکړي.

# د مرګ دره

د امریکې متحده ایالاتو کې یو لنډه اوږده دره ده، پخوا زمانه کې به لاره ورک مسافر دغه دره ته ننوت نو هغه به بیا د وتلو لار درک نه لګیده نو د لوږي او تندې په وجه به هلاک شو، له دې امله هغې ته د مرګ دره ویل کیږي.

ددغې دره یو جالب کار دا دی چې دلته غټې غټې تیږې دي ټوله دره ورنه اخوا دیخوا ډکه ده، دغه غټې تیږې خود بخوده حرکت کوي یوه ورځ چې دا تیږې د شمال طرف کې وې څو ورځې وروسته بیا د جنوب خواته لاړ شي اخر د کوم طاقت دی چې دغه غټ غټ تیږې له یو ځایه بل ځای ته وړي راوړي د قدرت دا یو داسې راز ده چې ننه پورې هېڅ یو ساینس دان هم حل نشو کړای.

# وړوکی موږک

په افریقا کې وړوکي موږکان موندل کیږي، چې هغه ته هیرو شیر ویل کیږي دا صرف څو انچه اوږد ده لیکن دده هډوکی دومره مضبوطه ده چې که سل کیلو ګرامه انسان وربانډې ودریږي نو پروا یې هم نه راځي او تښتي.

# ښکر والا چونګښه

په شمالي امريکا کې يو قسم چونګښې دي چې ښکرې لري چې ټول ورته ښکر والا چونګښه وايې .

کله چې دښمن ورباندې حمله وکړي نو هغه له سترګو نه د فوارې په شان وينه خوشېږي چې هغه نه دښمن ويرېږي او تښتي.

# آيا تاسې د ۶۸ کالو استۍ؟

که چيرې تاسې د ۶۸ کالو استۍ نو دې موده کې ۱۴ کاله ستاسو کاروبار باندې صرف کيږي او ۲۱ کاله ستاسو خوب باندې تيرېږي دغه موده کې ستاسو زړه ۲۵۰۰۰۰۰۰۰۰ ځله درځيږي تاسو ۶۰۰۰۰۰۰۰۰ تاسې ساه اخلئ ۳۰۰۰۰۰۰۰ ځله الفاظ تلفظ کوئ ۱۲۸۰۰۰ ميله پياده ګرځئ او که د سره ويښتان کاټ نه کړئ ۳۸ فټ به اوږده شي او ږيره به مو ۲۹ فټه اوږده شي.

په اته شپيتو کالو کې ۲۰ غواګانې او ميښې، ۳۰۰ مرغان ، بې شميره ډوډۍ، ۸۰۰۰ پونډه بوره ، ۹۰۰۰۰پونډه سبزي او ۱۰۰۰۰ هګۍ وخورئ شيدې چاې و غيره دينه علاوه دي.

Ketabton.com

# د موږکانو اندازه

د چين په مشرقي صوبه کې په يوه غرنۍ علاقه کې د موږکانو جسامت په اندازه شادوګان موندل شوي، د موږکانو په شان شادوګان په هکله دا ګمان وه، چې د هغوي نسل به ورک شي د چين پخوانۍ تاريخ کې دغه شادوګانو ته سياهي شادو ويل کيدل ځکه چې د چين قديم حکم رانو دغه شادوګان پالل يا روزل دغه شادوګان دوي ته د ليکول رنګ تياراو د د غه شادوګانو وزن ۲۰۰ ګرامه ده.

# ۲۴ کالو نه پس مړی

د امريکا ښار لارا کې اوسيدونکی ۲۴ کلن ايشلي وسټول ۱۹۱۴م کال کې د منګيتر بې وفايې په وجه خپله خيټه په مرمۍ وويشته او خودکشي يې وکړه، د پلار شرمندګي په وجه د هغه جسد په هماغه حالت په چوکۍ باندې پريښودل ددې ښايسته پيغلې جسد ۸۸کاله پورې په هماغه اطاق کې پروت پاتې شو، ليکن د تعجب خبره دا ده چې د هغې جسم کې کوم تغير رانغله او ډاکتران اوس هم کوښښ کوي چې ددې وجه څه وه چې جسد خراب نه شو.

# ۱۸ ورځې بې خوراکه ژوند کول

په بیجنگ کې یو سړی او د هغې دوه وریرونه ۱۸ ورځې سوري کې بغیره له خوراک څخه ژوندي پاتې شول، د ددوي په وینا کله چې دوي سوري ته ننوتل نو د شمع رڼا مړه شوه او سوري کې ډیر تیاره خپره شوه او دوي خپل لاره ورکه کړه او وروسته له ۱۸ ورځو څخه دوي له سوري څخه ووتل او ددوي په وینا ددوي د ژوندي پاتې کیدلو اصلي علت د اوبو څکل وه.

# د موږک سلام

د ګورنمنټ هاوس پونا دروازې سره یو موږک اوسیده، چې سر رابرت ته به یې هر سبایې سلام کوله دا موږک دا کار پوره ۲۶ کاله وکړه په کوم ورځ چې سر رابرت له دې نړۍ څخه سترګې پټې کړې نو په هماغه ورځ موږک هم مړ شو او له سر رابرت سره یې یو ځای خښ کړه.

Ketabton.com

# عجیبه سړی

سرتهامس د جینیوا اوسیدونکی وه فوج کې ۷۰ کالو پورې پاتې شو د ۸۰ کالو په عمر هغه په هماغه بستره کې وفات شو، چې پیدا شوی وه پخپل ژوند کې مسلسل ۳۰ کاله ویده وه او ۱۵ کاله پورې بیا خوب ونکړ.

# په فردانا کې په پیړیو باران نه دی شو

د فرادنا جزیره سماټران کې تراوسه باران نه دی شوی،هلته غرونه ډیر دي اوږده اوږده سوري دي چې هلته یوائې د جزیرې خلک اوسیږي، هغه خلک پخې شوې چونګښې د جوارو له ډودی سره زیات خوښوي هغوي د ټرما په نوم یادوي.

# په ۵۰ ژبو پوهېدونکی انسان

په سان فرانسسکو کې یو پل ده چې نوم یې کار کویزر سټریټ دی، دغه پل کې بې شماره سوري دي چې د ابي مارانو نه د ځلوينېتو کالو راهیسې ډکه ده، دغه پل یوه جوګي جوړ کړی دی که یو غیر سړی په دغه پل د تیریدو کوښښ وکړي نو خود به خوده یوه چیغه کوي او مړ شي د هغه جسد بیا دابي مارنو خوراک وګرځي جوګي ۱۴۵ کالو با وجود تراوسه ژوندی دی هغه هلته پل ته نږدی اوسیږي او په ۵۰ ژبو پوهیږي.

# د نړۍ لوی جومات

د اسلام اباد شاه فیصل جومات دنړۍ تر ټولو لوی جومات شو د هغه په هال کې سل زره لمونځ کوونکي ځایږي .

او د جومات باندې هویلۍ کې له دوه سوه زرو څخه زیات لمونځ کولای شي.

Ketabton.com

# دوه سوه زره کاله مخکې د انسان د زندګۍ نښې به سپوږمۍ کې!

د ډاکټر رچرډ په وینا کله چې په ۱۹۶۹م کال کې د ناسا د کمپنۍ لخوا انسانان سپوږمۍ ته وخته، نو هلته د یو ماشوم جسد یې ولید چې دوه سوه زره کاله مخکې قدامت درلود یعنې له دې څخه هم مخکې خلک سپوږمۍ ته ختلي وه.

دا خبره د ناسا کمپنۍ ځکه پټه کړه چې خلکو ته اندېښنه پیدا نه شي.

د ډاکټر په خبره هلته د هوایې کره موجوده وه او انساني ابادیانې موجودې وې.

د انسان ژوند په ځمکه کې له ۳۰ زره کالو څخه شروع ده خو دا نمونې ښايې، چې له دې څخه مخکې هم انسانان ژوند کوله مطلب ټکنالوژي ته لاس رسی درلود يعنې دوه سوه زره کاله مخکې هم خلک ټکنالوژۍ ته لاس رسی درلود.

# د پاکستان په يو کلي کې عجيب اور!

د مشرقي پاکستان په يو کوچنی کلي کې  يو عجيب او غريب واقعات رامنځته کيږي، د بي بي سي د وينا مطابق مختلفو مقاماتو باندې ناګهانه خود بخود اور بل شي په دغه اور کې ددوو کسانو جسم وسوځيد خو عجيبه دا ده چې د هغوي کالي او جامي محفوظ پاتې شول.

په درې مياشتو کې په يوولس مقاماتو کې اور ولګيد او دوه کسان خود بخود وسوځيد د همدې امله د ساينس دانانو د توجه وړ وګرځيد .

ددغې اور ددرجه د حرارت درجه تر يو زرو درې سوه ۱۳۰۰ درجو د سانتي ګريد ته رسيږي نو له همدې امله سخت او شديد ګرمي پيدا کيدای شي.

د ليدونکو په وينا ددغه اور شغلې هم عجيبه ښکاري.

Ketabton.com

# په بازار کې د زوم خرڅيدل

د هندوستان په هيواد کې د زوم خرڅيدل ازاد دي، په دغه ښار کې د زوم قيمت د ۲۵ زرو نه يو کروړ روپو پورې هر قسم زومان پيدا کيږي د اوچتو افسرانو زومان تر ټولو قيمتي وي.

بهارت شايد دد نيا واحد سيمه وي چې هلته زومان خرڅيږي.

ددوي قيمت د هغوي له دندو څخه توپير کوي لکه: په مکتب کې د چپلاسي قيمت له سل زروه تر يو سل زرو پورې وي، د پوهنتون استاد د يو ميليون څخه تر يونيم ميليون پورې دی ، که د تنخوا څخه بغير استاد وي نو د هغوي قيمت له دوه سوه زرو څخه تر پنځسوه زروه پورې قيمت لري او که په يو لوی

ښار کې د صحافت دنده ولري نو قیمت یې پنځه سوه زره پوړې رسیږي او یو ټکسي هم ورته ورکول کیږي.

# ۱۵ ورځو پورې د خوراک نه بغیر ژوند کول

یوه ۸۵ کلنه ښځه چې نوم یې رحمت بي بي وه لاره ورځخه ورک شوه د غرونو په کجو پیچې ځنګلونو کې سمه شوه ۱۵ ورځې د خوراک نه بغیر ژوندی پاتې شوه.

هغې په جامن ( یو قسم میوه ده) باندې ګزاره کوله تر هغه وخته چې څه خلک ورپسې را ووتل او هغه یې یعنې رحمت بي بي یې خپل کور ته را ورسوله.

# د مریخ وایروس

Ketabton.com

امریکایې ساینسدانانو ته د شهاب ثاقب یو ټوټه په لاس راغی چې مریخ څخه ۵.۴ میلیونه کاله مخکې راپریوتې وه.

دغه شهاب باندې د ژوند کولو تحقیق شوی دی، له دې نه معلومیږي چې مریخ باندې د ژوند کولو اثار موجود دي، ځکه چې په دغه شهاب باندې خطر ناک وایروس شته دی چې په دغه شهاب د ثاقب د تحقیق کولو کې ۴ ساینسدانان مریضان شول او تحقیق کوونکي ترینه وفات هم شوه.

له دغه وایروس څخه انسانانو ته خطر ناک مرضونه پیدا کیدی شي ددغه وایروس په وجه د انساني جسم درجه د حرارت خطرناک حد ته رسیدلای شي او انساني جسم باندې سرې دانې را څرګندیږي.

# ۳۰ زره موږکان د سپیانو په واسطه هلاک کیدل

د چین په ولایت جیناګي کې کې د لیونانمې یو دهقان څلور چینایې سپیان وپالل هغه دغه څلور سپیان خصوصي طریقې سره د موږکانو د ختمولو لپاره تربیه کړل دغه سپیان ۳۰ زره موږکان ختم کړ.

# عجیبه ګل

د بحرین په جنوب کې یو ژیړ رنګ والا ګل را غوړیږي، چې څوک د شکولو په خاطر ورته نږدې شي هغه کوښش کوي چې هغه پسې خطرناک پنجه راوباسي او را ګیر یې کړي او کله چې د باران اوربښت امکان وي بیا نو دی وړوکی مخلوق خپل سیوری په دې باندې خپل سیوری غوړوي.

دغه ګل د څو زرو کلونو نه مړاوی شوی نه دی.

# همیشه اوربښت لرونکی سیمه

د ځمکې په کره باندې یو داسې ځای شته چې هلته همیشه لپاره اوربښت وي،

دغه سیمه په جنوبي امریکا کې واقع ده، هغه ته پراګوي وایې، د برازیل د سرحد خواته د پرانا سیند په یوویشت برخو باندې تقسیمیږي او دا ځای دنړۍ یا نړۍ مرطوب ترین ځای دی.

Ketabton.com

# تور طوفان

۱۸۷۶م کال د شپې لخوا دومره سخت او تور طوفان راغی چې پراته او ویده خلک یې داسې ګډوډ کړ چې څو ګزه لرې وار کړل.

ماشومان خو د پتنګانو په څیر په هوا کې الوتل دغه ویرونکی طوفان د کورونو چتونه په فضا کې والوزول دغه طوفان مسلسل ۱۸ ساعته روان وه د ماشومانو چیغې او بغارې معلومیدې لکه اسمان چې ژړا کوي دغه طوفان سره د برازیل نیمه ابادي ختمه شوه د ماشومانو نوم او نشان هم پاتې نه شو.

# د ماشومانو د مړینې په اړه ویونکی ساعت

په برلین کې یو داسې ساعت شته چې هره دقیقه د وایې چې جرمني کې نن دومره ماشومان پیدا شول او دومره مړه شول.

# د زمرۍ بچيو ته شيدی ورکول

يو سپۍ د زمري پنځو بچيانو ته شيدې ورکول خپل زمه واري وګڼله پنځه واړه ددوښځينه زمريو بچيان وه، چې د هغې يوه يې شيدې نه وې او په بله کې بخار وه د همدې وجې شيدې نه شوې ورکولای .

يو سړی خپله سپۍ ور ورسوله لومړی خو يې نه پريښودله مګر کله چې خپل بچيان يې هم ور شامل کړای شوه نو هغې بيا ورکول شروع کړه.

# جنازه

د سيکنګ يو جنرال چې کله ۱۹۱۲م کال وفات شو بيا د هغه جنازه ويوړل شوه ، د پيکينګ ښخه کاشغر پورې.

د يو جلوس په صورت کې دغه جنازه په اول د جون ۱۹۱۲م کال له پيکينګ ښار ښخه کاشغر ته ته وړل يې شروع شول چې تقريبا ۲۳سوه ميله فاصله ده دغه جنازه په اول د جون ۱۹۱۳م کال کاشغر ته ورسول شوه.

د جنرال جنازه پوره يو کال سفر وکړ.

# جهيل

د جاوا په جزيره کې يو عجيب او غريب جهيل دی، د هغه دننه هر وخت پوکانې راوځي دغه پوکانې په پوره قوت سره د جهيل له دننې ښخه راوځي او فضا کې ۸ فټه پورې روانې وي کافي زمانه هوا کې خورې وي، وروسته د اصلي او لويو پوکانو په شان خطرناک اواز کوي او چوي د دغو پوکانو اواز ډير لرې سيمو پورې هم اوريدل کيږي.



Ketabton.com

# د ترکيې بادشاه

ترکي بادشاه سلطان مصطفی پنځم ۱۷۱۷ م کال نه تر ۱۷۸۰م کال پورې حکومت وکړ، هغه پخپل دوره کې ۳۰ ودونه وکړ، الله ج هغه ته ۵۸۲ زامن ورکړې وه يو لور يې هم نه وه پنځه سوه نجلی هغه په فوځ کې افسرانې وې.

# چرګه

د کلفورينا د يو دهقان سره يو عجيبه او نا اشنا چرګه وه، هغې په مياشتو به هګۍ نه اچوله خو کله به چې شروع کړه نو بيا به په يو ورځ کې يو درجن هګۍ اچوله.

# پرنجی

په کلفورينا کې د يو پرنجي لامله يو ريل ګاډی مجبور شو چې شل دیقیقې ودريږي داسې وشوه: چې کله پرنجی يې وکړه نو د هغه نو د هغه په خوله کې چې کومه نقلي ژامه وه د ژامې او غاښونو سره يوځای بهر پريوت نو دوي هم مجبور شو چې موټر ودروي او خپل غاښونه ولټوي شل دقيقې يې خپل غاښونه ولټول خو متاسف خپل غاښونه يې هم پيدا نه کړه.

# ايرلينډ کې ماران نشته

نن څخه په لکونه کاله مخکې چې کله د واورې زمانه شزوع شوه، نو په ايرلينډ کې بې حده يخني شوه، د هغه اکثر حصه منجمده شوه کله چې ايرلينډ ډير زيات سوړ شوه نو اکثر حيوانات له دې ځای څخه کډه وکړه او کله چې واوره ويلې شوه، نو هوا لږ څه ښه شوه نو حيوانات بيرته ايرلينډ ته راغله نو يواځينې حيوان مار وه چې نه وه راغلی نو همدې امله ايرلينډ د اوبه سطحه څلورو خواو ته اوچت شوه او د جزيرې شکل يې اختيار کړه او ماران ونه شوه کولای چې بيرته راشي نو له همدې امله په ايرلينډ کې هيڅ مار نشته.

## د کاغذو کور

په ناروې کې د ګرجا کور له کاغذ څخه جوړ شوی دی، چې په هغه کې لس زره انسانان کیناستی شي تیزې هواګانې دا نه شي چپه کولای د واورې اوبه هغه باندې هیڅ اثر نه کولای ځکه کله چې پرې اوبه وغورځیږي نو بخار شي او پاس لاړ شي.

# ډوډۍ

په شکاګو کې یو ډبل روټۍ دی چې څلور زره کاله قدامت لري او خلک یې یوازې لیدو ته ورځي.

Ketabton.com

## شفاف جسم

د چین په یوه کلی کې یو چینایې اوسیدونکی اوسیږي د هغه جسم دومره اندازې ته شفاف دی، چې د هغه جسم ، هډوکی او د بدن نور عضا ټول له ورایه ښکاري که هغه بیمار شي ډاکټر د هغه جسم په ولاړه وګوري او مرض یې ورته ووایې چې فلانکی مرض دی.

## پیشو لس کسانو ته نجات ورکړه

د چین په جنوب مغربي ولایت سی چوان په مقام نولنګ کې څو ورځې مخکې د یوې کورنۍ پیشو د یوې کورنۍ لسو تنو ته نجات ورکړه: د راپورونو له مخې د یوې کورنۍ لس نفره ویده وه چې کورنۍ پیشو شور او غالمغال جوړ کړو او دویدو خلکو په بسترو یې ټوپونه وهل شروع کړ دا کسان چې کله له خوب څخه را بیدار شو هغوې ولیدل چې د هغوې د درې منزله کور دیوالونه په غورځیدو دي هغوې پیشو هم له ځان سره را واخیست او را ووتل او ټول مکان و نړیده.

# د لاس بیمه

د کیرم بورډ په لوبه کې یو ماشوم دومره مهارت حاصل کړ چې د هغه یو لاس په یو لک پنځوس زره پونډه باندې بیمه کړای شوه دغه هلک د یونان په عالمي مقابله کې څلورم مقام خپل کړای وه دغه هلک مسلمان ده، سلمان باشي د هغه نوم ده او د امریکا د یو ښار لارې اوسیدونکی دی.

# ډاکټر

د برازیل په علاقه د مکسیکو اوسیدونکی سابقه الیکټریکل انجینر ۴۱ کلن روبنز فاریاس د کسب له لحاظه یو انجینر د،ه لیکن د څه طبي تعلیم نه بغیر د مریضانو اعلاج کوي د هغه لاسونه باندې بې شماره مریضان اعلاج شوي دي .

د فاریاس په وینا: چې د لس کالو مخکې واقعه ده چې یو شپه هغه ویده وه، نو د هغه په خوب کې ۸۰ کاله مخکې وفات شوی جرمني ډاکټر اډولف راغی چې فاریاس ته یې وویل: چې هغه به په نړۍ کې د طبي ماشین تکمیلوي له همدا ننه به ډاکټر اډولف روح د فاریاس په جسم حلول کوي او دهغه د مهلک او خطرناک مرضونو علاج کوي دغه کار کې به د ډاکټر اډولف روح هغه سره تعاون کوي.

دغه خوب څخه وروسته انجینر فاریاس د مریضانو علاج شروع کړه او مریضان په حیرانیدونکی طریقې سره د هغه په لاسونو شفایاب کیږي.

# په اور ګاډي باندې د پیریانو قبضه

د ساهیوال نه ۵ کیلومتره لرې واقع سټیشن باندې چې شپه شي د پیریانو وریاندې قبضه وي او د شپې نوکریوال خلک ددغه ډار له وجهې نه راتلای نه شي چې ماښآم په وخت نوکري ختم شي تلونکی عمله د سټیشن نظام پریږدي او خپله چلیږي.

# غپیدونکی شګه

سونو لولو نه ۷۵ میله فاصله کې کوټې په نامه یوه جزیره ده دغې جزیرې ساحل باندې یو نا اشنا قسم شګه ده، د هغې اوه فټه غنډۍ ده دغه شګه که په لاسونو سږی ومښي نو له هغه د غپیدونکی سپو په شان اواز راوځي.

# ۸ کله مخکینې مړی بیرته راغی

د هندوستان په علاقه غازي اباد کې ۸ کاله وفات شوی زنانه شاشیدا تیرو ورځو کې د خپل پلار کور ته بیرته راغله هغې سره دوه بچیان هم وه د واقعاتو مطابق شاشیدا نومې ښځه ۱۹۹۴م کال کې قتل کړای شوی وه د هغې د قتل په الزام د هغې خاوند محبس ته تللی وه ، پلار لخوا د دغې ښځې د بدن پیژندلو نه وروسته دفن کړای شو دغه ښځه سترګې نه رېوي بچي اکثر شپه کې غایب کیږي دغه ښځه چارچاپیره خلکو ته یو معمه جوړه شوی دی.

# د قران کریم معجزه

د پنډي بهتیو په شاوخوا کې د قران مجید معجزه ښکاره شوه، د راپورونو مطابق لاهور سرک باندې واقع اته ایکړ غنمو درمند باندې ناګهانه اور ولګید اوپه څو دقیقو کې اته درمنده باندې اور ولګید او وسوځید او د شمال د تیز والي له امله ۱۰۰ ایکړ درمند طرفته و وړاندې شوه دغه موقع باندې یوې زړې ښځې قران مجید راوړ او دمندو ته راورسیده د ښځې ر راسیدل وه چې ارو خود به خوده مړ شو چې ۱۰۰ ایکړ باندې مشتمل درمند ته نجات حاصل شو.

کله چې خلکو دا معجزه ولیده نو په سجده شوه.

# مریخ کې د ژوند لټه

د چین ساینس دانانو ته د چین ولایت ین چو کې یو ۲ ټن وزني شهاب ثاقب په لاس راغی شهاب ثاقب ۳زره کاله مخکې د مریخ سیارې نه ځمکې ته راپریوتی وه چینایې ساینس دانانو دغه شهاب ثاقب باندې تحقیق وکړو چې کله یې هغه ټوټه کړ او په دوه برخو وویشو چې هغه یې ولیدو د هغې په دننه کې

انساني تصويران موجود وه په هغو تصويرونو کې يو سړی نيزه اوچته کړی او يو بل سړی د هغه مخکې په تعظيم ولاړ وه د هغو اشخاصو لباس د سابق مصري لباسو ته ډير ورته لري .

# خرطوم والا انسان

تايوان کې ۹۰ کلن سړی د عوامو د سترګو مرکز وګرځيد د هغه په خوله کې خرطوم وه او تقريبان ۷۰ کاله پورې هغه پټ وه په وړکتوب کې ددې په خوله کې ګڼ تعداد دانې راووتې چې له هغو څخه يوه يې اوږده شوه او بالاخره د فيل سونډ ته يې ورته والی پيدا کړ.

د ډاکټرانو په وينا د هغه د عمر د زياتوالي له امله هغه عمليات کيږي هم نه.

Ketabton.com

# د چنګښو باران

د ۱۹ پير په اخر کې په مغربي برتانيه کې د وړو وړو چينګښو باران وشو بيا په ۱۹۰۰م کال د انګلينډ په کيول پول کې باران سره وړې وړې چونګښې په ځمکه را پريوتې په خلکو کې خوف او حراس خپور شو.

# د سرو زرو اتش فشان

جنوبي کولمبيا کې پټاو شوی اتش فشان څخه سره زر راوځي، ددغې خبرې انکشاف د امريکې ساينس دانانو پخپل يوه رپوټ کې کړی دی راپور کې يې ويلي: چې دغه اتش فشان هر کال تقريبا ۵۰ زره پونډه سره زر شاوخوا غرونو ته شيندي.

# د نړۍ لوی جنازه

د د نیا تر ټولو لویه جنازه د سید جمال بلند ناصر ګڼل شوی دی د هغه په جنازه کې پنځوس لکه خلکو شرکت کړ ی وه په نړۍ کې تراوسه پورې د چا جنازه کې دومره خلکو شرکت نه دی کړی.

# حیرانونکی د طاقت خاوند

عباسي خلیفه معتصم بالله سره دومره طاقت وه چې هغه به دوه ګوتې سره ومښلې نو ددنیار نقشونه به یې ختم کړ.

# ۱۸ میاشتو ماشومه مړه کیدل د کب په واسطه

هندوستان کې یو ۱۸ میاشتنې ماشومه هغه وخت مړه شوه، چې کله هغه ماهي پخپل خوله کې ژوندۍ تیر کړه مخکې له هغه چې ماهي بیرته وویسته ماشومه مړه وه شوی وه.

# لیمبو



Ketabton.com

د کلفورنيا په يوه باغ کې تير کال تقريبا د درى فټو په اندازه يو ليمبو لګيدلى وه چې وزن يې درى کيلو وه.

# اواز کولو والا کاڼې

د امريکې په يو مقام سپينې ماڼۍ کې کنګسټن لزل سره خواته يوه عجيبه کاڼې ده چې هغه ته خلک اواز والا کاڼى وايې ددغې کاڼې يو خواته يو لوى سورى دى چې پو کولو سره هغه داسې په زور اواز کوي چې ۸ ميله پورې يې هم خلک اوريدلاى شي.

Ketabton.com

# په سږو کې مصنوعي غاښونه

د فرانسې د يو ښار ليون اوسيدونکى ۲۶ کين پيرې ليمن په سينه کې سخت درد وه، ډاکټرانو چې کله د هغه عکس واخيست نو د هغه په ښي سږې باندې د سرطان يوه غټ نښه ښکاره شوه چې له دې امله ډاکټرانو د هغه د سږو د عمليات فيصله وکړه کله چې د هغه سږې يې را وسپړلې نو سرطان نه بلکې يو سيټ مصنوعي غاښونه وه.

د ليمون په وينا : له نن ځخه ۱۲ کاله مخکې د هغې يو والګاه له غټ موټر سره ټکر شوه په هغه کې حادثه کې هغه بې هوښه شوى وه چې کله په هوښ راغى او بيدار شوه د هغې مصنوعي غاښونه غايب وه د هغې دا خيال وه چې چيرته به پريوتلى وي ليکن اوس زما خيال ده چې د بې هوښۍ په وخت کې زما په سږو کې دننه شوى وه .

# تر ټولو لوی ډول

د نړۍ لوی ډول د هندوستان د ناګا د قبیلي په ملکیت کې دی .

دغه ډول یې په یو قامت ونه باندې چه د هغې منځ یې ورته خالي کړی په پوښ کې اچولی او هغې باندې ځوړنې کړې، د هغه قامت اندازه له دې نه لګیدای شي چې هغه په یو وخت اویا تنه غږولای شي .

# عجیب جهیل

هند په یو ښار مرادنې کې یو عجیب جهیل دہ، چې بیرم نات سره مشهور ده دا یو کال له اوبو نه ډک وي او بیا دوه کاله پورې مسلسل و چ وي.

Ketabton.com

# د نړۍ قیمتي ساعت

ګرینډ سوزي په نړۍ کې ډیره قیمتي ساعت ده، د هغه قیمت اته لکه ډالر ده دغه ساعت کې ۳۰ قیراط هیرو ده او د هغه حلقه خالص د سرو زرو ده د هغې یو مهم خاصیت په هغه کې د نصب جنتري ده، چې کم میاشتې ولا کلونه ښایې د فروري ۲۹ باندې ښایې اوس هغه د جینوا یوې کمپنۍ جیرلاډ جنټیا مکمل کړ، دغه شان ساعت تکمیل کې ۱۰ کاریګرانو دوه کاله پورې انتحایې محنت پکې کړی وه.

# د باران ښودونکی بوټی

په بلجيم کې داسې يو بوټی پيد کيږي، چې د بيرو ميټر کار اسانۍ سره انجامولای شي.

کله چې باران کيدونکی وي، نو دا بوټی خلاصيږي او ددې خبرې اطلاع ورکوي چې په ۲۴ ساعتونو کې باران کيدونکی دی.

# هيوادونه

## امريکا

Ketabton.com

د امريکا د ټيکزاس آيالت مرکز استن ښاردی

تر واشنګټن مخکې د امريکا پلازمينه فلاډيفيا وه

د امريکا متحده ايالاتو مساحت تر استراليا زيات دی

الاسکا امريکا له روسيې څخه اخيستی دی

د امريکا فلوريډا ايالت يوه ټاپو وزمه ده

د امريکا لومړنی ولسمشر جورج واشنګټن نوميده

د امريکا ۴۳ ميليونه کيلومتره مربع مساحت دی،له درې برخو څخه تشکيل شوی شمالي امريکا، مرکزي امريکا او جنوبي امريکا.

دغه براعظم په ۱۴۹۲م کال د کرستيف کولمب لخوا کشف شوی دی.

# روسیه

روسیه په اروپا او آسیا دواړو کې پرته ده

د روسیې سرحدونه له دوولسو هیوادونه سره نښلي

د روسیې تر ټولو مشهور لوبه فوټبال ده

تر ماسکو مخکې د روسیې پلازمینه لینن ګراد و

په روسیه کې اورګاډي ته میټرو وایې

د روسیې مشهور فضایي کمپنۍ یروفلوټ نومیږي

روسیې د الاسکا ایالت پر ۱۸۶۷ کال پر امریکا وپلورو

د نړۍ تر ټولو لوی هیواد دی چې ۱۷۰۷۵۴۰۰ کیلومتره مربع ده او ۱۴۷۲۰۰۰۰۰ تنه یې نفوس دی او پایتخت یې مسکو دی د حکومت طرز جمهوري فدراتیون.

---

Ketabton.com

# فرانسه

د فرانسې په جنوب کې اسپانیا او اندورا پراته دي

پاریس پر ۹۸۷م کال د فرانسی پلازمینه شو

د فرانسې کرنسي فرانک دی

بور بونس قبیلي تر دوه سوو کالو زیات پر فرانسې واکمني کړی ده

د فرانسې وروستنۍ ملکه میري نومیده

د فرانسې مشهور سیندونه راین،سین،لوایرا او ګارون دي

د فرانسې مساحت ۵۴۴۰۰۰ کیلومتره دی او ۵۵ میلیونه دي د حکومت ډول یې جمهوري دی.

---

# چین

د چین سنکبانګ آيالت له افغانستان سره پوله لري

د چین ګول مېسیند د مالګو په سیند مشهور دی

د چین هان قبیلې پنځه زره کاله مخکې يو داسې دود درلود، چې کله به پاچا مړ شو نو د هغه نوکران او غلامان به يې ورسره ختمول.

چین خپله لومړنۍ سپوږمۍ پر ۱۹۶۹م کال فضا ته واستوله.

مارکو پولو په دیارلسمه پیړۍ کې چین ته ننوت.

په نړۍ کې د مساحت له مخې دريم هیواد دی. د چین مساحت ۹۵۶۰۷۷۹ کیلومتره مربع نفوس يې ۱۲۱۳۰۰۰۰۰۰ تنه دی پایتخت يې پایکن ښار دی. د حکومت طرز جمهوري سوسیالیستي او په نړۍ کې ډیر پخوانی تمدنونه ځخه ګڼل کیږي.

Ketabton.com

---

# سعودي عربستان

د سعودي کورنۍ مروس سلطان عبدالعزيز ابن عبدالرحمن الفیصل السعود و.

سعودي عربستان ۹ لکه ۲۷ زره مربع میله مساحت لري

د طايف ښار د سمندر له سطحې ۳۸۰۰ فوټه لوړ دی

د سعودي عربستان تر ټولو مشهور ځاروی اوښ دی.

په سعودي عربستان کې غلامي ۱۹۶۲م کال کې غیري قانوني و ګرځول شو.

# مصر

مصر د افريقا په لويه وچه کې پروت دی.

د مصر په سويل کې سوډان پروت دی.

د مصر سکندريه ښار سکندر جوړ کړی دی.

نيپولين پر ۱۷۹۸ م کال پر مصر يرغل وکړ.

د مصر لومړنی ولسمشر جنرال نجيب او صدراعظم يې جمال عبدالناصر و.

Ketabton.com

# عراق

هارون الرشيد بغداد مدنية الاسلام باله.

بغداد پر ۱۹۲۱ کال د عراق پلازمينه شوه.

بصره د خرماوو مشهوره سيمه ګڼل کيږي.

په عراق کې لومړنی پوځي پاڅون پر ۱۹۵۸م کال کې رامنځته شوه.

د بغداد ښار بنسټ خليفه منصور ايښی دی.

د عراق د کرنسي نوم دينار دی.

# ایران

په ایران کې ۲۸ ساساني پاچاهانو حکومت کړی دی.

افغانستان او پاکستان د ایران په ختیځ کې پراته دي.

ایران ټوله اته ولایتونه لري.

ګورګین ایراني د میرویس نیکه په واسطه ووژل شو.

د ایران مشهوره کالیزه عمر خیام جوړه کړې ده.

د حکومت ډول اسلامي جمهوریت پایتخت یې تهران دی او په ۱۳۷۵هـ ش کال پکې اسلامي انقلاب وشوه.

Ketabton.com

# الجزایر

د الجزایر ټول مساحت ۹۱۹۵۱۹ مربع میله ده.

الجزاير په شمالي افريقا کې پروت دی.

فرانسې پر ۱۸۳۹ کال کې د د الجيريا په نوم نومولی وه.

د الجزاير لومړنی ولسمشر او او صدراعظم احمد بن بيلاو.

الجزاير د ۱۹۶۲ کال د اکتوبر په اتمه د ملګرو ملتونو غړی شو.

د الجزاير هيواد ټول نفوس ۲۸ ميليونه تنه دی او پايتخت يې الجزيره دی.

——————————…………………——————————

# بلجيم

Ketabton.com

د بلجيم په شمال کې هالنډ پروت دی.

د بلجيم پلازمينه بروکسل نوميږي.

بلجيم ټوله نهه ولايتونه لري.

د نړۍ څلورم ستر بندر په بلجيم کې دی چې انټورپ نوميږي.

د بلجيم د ملي جرګې غړي تر څلورو کلونو پورې ټاکل کيږي.

د بلجيم هوايي شرکت سبينا نوميږي.

د بلجيم ټول مساحت ۳۰۵۱۳ کيلومتره مربع دی او ټول نفوس يې ۱۰ ميليونه تنه دي.

پايتخت يې د بروکسل ښار دی او د حکومت ډول يې مشروطه شاهي ده.

